مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباري جهاني
۲۰۱۹/۰۸/۱۶

په افغان جرمن آنلاین کي، د ډاکټرصاحب عبدالله کاظم پر يوه مضمون باندي، چي د استقلال په جګړه کي يې د اوربند په باب ليکلی وو، سترګي ولګېدې. ډاکټرصاحب، د تل په ځېر ډېره ښه او مستنده څېړنه کړې او د تل په څېر مي په غورولوستله. زه يقين لرم چي ډاکټرصاحب محترم دا ليکنه د وطن پالني د خالص احساس په اساس کړې ده. د مضمون اصلي محتوا د دې خبري ثابتول دي چي ګواکي د افغان او انګليس په دريم جنګ کي د متارکې پېشنهاد د اعليحضرت امان الله خان له خوا څخه نه بلکه د انګليسانو له خوا وسو.
زه ګومان کوم چي د اوربند پېشنهاد چي هري خوا کړی وي هغه د دريم جنګ پر نتيجه باندي، چي د افغانستان بشپړ استقلال وو او د اعليحضرت امان الله خان پر شخصيت باندي، چي د استقلال مين وو، کومه خاصه اغېزه نه لري.
اعليحضرت امان الله خان او ټولو افغانانو له برتانوي استعمار څخه د استقلال غوښتنه درلوده او هغه تر لاسه سو.
مګر څرنګه چي تاريخ د تېرو پېښو بيان دی او موږ تيري سوي پېښي بيرته را ګرځولای نه سو او تاريخ له سره ليکلای نه سو نو بايد چي هغسي يې وليکو چي تيري سوي دي او په متونو کي راغلي دي، نه هغسي چي زموږ زړه غواړي.
ډاکټر صاحب کاظم د مضمون د لومړي مخ په پای کي ليکي«... په داسي حال کي چي تاريخي اسناد ښيي چي د اوربند پېشنهاد او متارکې ته رسېدل، لومړی په برتانوي هند کي د انګليسی مقاماتو له خواوړاندي سو. او شاه امان الله غازي، د ځينو دلايلو په اساس، هغه پېشنهاد، د انګليسيانو له خوا، د افغانستان د استقلال د تصديق په شرط، منظور کړ. او د جنګ په دريو واړو محاذونو کي يې د جنګ په بندولو سره د سياسي حل لاره مطرح کړه.
د مشرقي پر محاذ خو خبري نه سي کېدلای؛ د کندهار په محاذ کي هم سردار عبدالقدوس خان له انګليسيانو سره مخامخ نه سو چي هغوی په سپين بولدک کي د افغانستان پوځي قوه په قلعه جديد کي ټوله محو کړه. پوازي د جنوبی په محاذ کي سپه سالار محمدنادر خان پر مختګ کړی او تل يې محاصره کړی وو.
انګليسيانو په دغه وخت کي پر جلال آباد باندي بمباري وکړه. د افغانستان پوځي مرکز يې تباه کړ، جبه خانې اور واخيست او ايله جاري مخلوق د مالونو په چورولو لاس پوري کړ.
انګليسيانو د مې پر ځلېرويشتمه د کابل پر ارګ بمباري وکړه. که څه هم چي تلفات يې ونه رسول خوخلک يې ډېر سخت وارخطا کړل. خلکو تر دغه وخته پوري الوتکي له سره ليدلي نه وې او د توپکو او توپنچو ډزي يې وربandي وکړې.سايکس دوهم جلد ص ۲۷۶
اعليحضرت امان الله خان د دې بمباری څخه مخکي، د مې پر لسمه، په هند کي وايسرا ته ليک لېږلی وو او ليکلي يې وه چي هغه غواړي د هند سره د دوستی تړون لاسليک کړي. ارغنداوی ص ۱۹۸
د هند حکومت د شمال لوېديځي صوبې سرکميشنر ته ويلي وه چي تر څو پوري امير خپلو ټولو عسکرو ته د جنګ د بندولو او خپلو مرکزونو ته د ستنېدلوامر نه وي کړی جنګ به نه بندوي. په دغه برخه کي د امير يو لاسليک سوی مکتوب په کار وو څو دا وښيي چي هغه په ريشتيا هم سوله غواړي. ضمنا د برتانيې قواوو ته امر سوی وو چي خپل پرمختګ ته دوام ورکړي. هغه کتاب ص ۱۹۹
بل ځای لولو« په داسي حال کي چي د تل په محاذ کي د برتانيې قواوو پرمختګ کاوه، يوه عسکر چي سپين بيرغ ورسره وو د نادرخان له لوري د اوربند پېشنها راوړ او غوښتي يې وه چي جنګ بايد بند سي. امير امان الله خان د مې پر يودېرشمه د اوربند غوښتنه کړې وه مګر د هغه پېشنهاد د جون تر دريمي پوري نه وو منل سوی. د تل په محاذ کي د انګرېزي قواوو قوماندان جنرال ويليم ډايار د نادر خان په جواب کي ويلي وه چي ستا پېشنهاد ته به زما توپونه جواب درکړي» موليزورت ص ۱۲۰
زه ډاکټر صاحب ته په ټول احترام ليکم چي په تاريخ کي داسي چنداني نه ده پېښه سوې چي يو څوک دي هم په جنګ کي د اوربند او متارکې پېشنهاد وکړي او هم دي شرايط ورسره کښېږدي. موږ ګورو چي د هند وايسرا چيلمسفورډ د اعليحضرت امان الله خان د اوربند پېشنهاد په ډېرو درنو شرايطو ومانه. هغه دا چي افغانان بايد د برتانيې له سنګرونو څخه شل ميله پرشا ولاړ سي؛ خو برتانوي عسکر به په هغو ځايونو کي وي چي همدااوس موجود دي. برتانوي عسکر به په دغو سيمو کي دعمل ازادي لري، البته نور به پرمخ نه ځي. د برتانيې الوتکي به په ازادانه ډول د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

افغانستان پر خاوره پروازونه کوي او افغانان به پر هغو باندي د ډزو کولو اجازه نه لري. که چیري یو برتانوی پیلوټ د افغانستان په خاوره کي کښته کېدلو ته مجبور سو نو هغه باید په سالم ډول برتانوي قواوو ته تسلیم کړه سي. بالاخره باید د پولي پر دواړو غاړو باندي قبایل کنټرول کړل سي او هغوی ته باید اطلاع ورکړه سي چي اوربند سوی دی او که چیري هغوی د برتانیې پر قواوو باندي حمله وکړي نو باید چي افغان حکومت هیڅ ډول مرسته ورسره ونه کړي. وایسرا پیشنهاد وکړ چي د سولي یو کنفرانس به په راولپینډي کي جوړیږي. ادمک ص ۱۲۰

امیر د جون پر څوارلسمه وایسرا ته یو لیک واستاوه او په هغه کي یې هغو ټکو ته اشاره وکړه چي عملي کول یې ممکن نه وه. لکه د برتانیې له پوځیانو څخه د افغانانو شل میله پرشا کول او د افغانستان پر خاوره باندي د برتانوی الوتکو ازادانه پروازونه. البته دا وروستی غوښتنه په هر معیار یو فوق العاده شرط وو. هغه دغه راز ویلي وه چي افغان پوځیان او کلیوال دواړه په یوه رنګ دي. دا ګرانه خبره ده چي سړی دي عسکر له عادي کلیوالو څخه تشخیص کړي او د پر شا تللو امر دي ورته وکړي.

وایسرا د جون پر یوویشتمه په خپل جوابیه مکتوب کي پر خپلو غوښتنو باندي ټینګار وکړ او د برتانیې له خاوري څخه یې د افغان پوځیانو شل میله پر شا تګ وغوښت. هغه دغه راز له امیر څخه وغوښتل چي خپلي قواوي د نوي چمن له شاوخوا څخه وروغواړي. ده په پای کي زیاته کړې وه چي تر څو پوري یو عسکر د برتانیې تر پولي په دې خوا موجود وي د سولي خبري ممکني نه دي او موږ به د جنګ له بیرته پیل کولو څخه بله چاره ونه لرو. ارغنداوی ص ص ۲۰۱ ـ۲۰۲

اعلیحضرت امان الله خان د جولای پر پنځه ویشتمه په عام دربار کي د جنګ د پیل کولو پړه پر جنرال صالح محمدخان، سردار عبدالرحمن خان او میرزا غلام حیدر باندي واچوله او وې ویل چي هغوی ده ته ګمراه کوونکي اطلاعات ورکړي وه او دی یې غولولی وو. هغه کتاب  ص ص ۲۰۰ـ۲۰۱

که دا پورته متون جدي ونیسو، چي د ردولو لپاره یې نور اسناد په لاس کي نه لرو، نو زما قضاوت خو وایي چي د اوربند پیشنهاد باید د افغانستان حکومت او پخپله اعلیحضرت امان الله خان کړی وي. زه یو ځل بیا دا خبره کوم چي د افغاسنان له خوا د اوربند پیشنهاد د جنګ د پیل کېدلو پر هدف او نتیجه باندي اغېزه نه لري. بلکه د اعلیحضرت امان الله خان له لوري د اوربند او متارکې پیشنهاد د هغه معقولیت ښیي. ځکه چي له برتانیې سره جنګ ته دوام ورکول د افغاني قواوو او د اعلیحضرت امان الله خان نوي تاسیس کړي دولت ته مقدور نه وه. هغه د خپلو خلکو د سر اومال د ژغورلو لپاره د متارکې پیشنهاد کړی دی او دا یې ښه کار کړی دی. زموږ لپاره دا افتخار بس دی چي د نړۍ د یوه داسي جبار قوت څخه مو په داسي وخت کي استقلال تر لاسه کړ چي مستعمره هیوادونو یې د استقلال تصور نه سو کولای؛ او د اسیا او افریقا د لویو وچو ډېرو زیاتو هیوادونو ان پنځوس کاله وروسته استقلال تر لاسه کړ.

## ماءخذونه


1: Sikes, Sir Percy. A History of Afghanistan. First Indian Edition 1981

2: Arghandawi, Abdul Ali. British Imperailism and Afghanistan’s Struggle for Independence. 1914-1921 First Published 1989

3: Molesworth, Gen. G.N. Afghanistan 1919 Published 1962

4: Adamec, Ludwig W. Afghanistan’s Foreign Affairs to the Mid- Twentieth Century. The University of Arizona 1974




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ